د لوړو زده کړو وزارت

تابش پوهنتون

محصلانو چارو معاونیت

# د نظم او دسپلین لایحه

## لومړی فصل

غټې سرغړونې ( تخلفات بزرگ )

**لومړی ماده :**

رشوت ، اختلاس ( دوهکه ) ، جنسي تجاوز ، د مؤقف څخه نا مشروع استفاده ، غلا او داسې نور اعمال ټول هغه اعمال دي چې برعلاوه ددې چې متهم شخص پرې عدلي او قضايي ارگانونو ته معرفي کيږي بلکې کيدای شي چې دمؤقتي يا دايمي اخراج سبب هم وگرځي .

**دوهمه ماده :**

د لومړی مادې په ذکر شوو حالاتو کې د سزا پريکړه د تحصيلي مؤسسې د علمي شورا لخوا کيږي چې آيا متهم مؤقتي اخراج شي که دايمي اخراج شي .

## دوهم فصل

مخالف ټولنيز برخورد ( سلوک ضد اجتماعي )

**دريمه ماده :**

هغه سلوک او کړنې چې ټولنيز مخالف ( ضد ) اعمال کڼل کيږي په لاندې ډول دي :

1. شخصي تعرض ( تعرض شخصي ) ، جنسي زورونه ، توهين ، د پوهنتون شتمنۍ او ملکيت ته ضرر رسول او د علمي ، فرهنگي او اجتماعي برنامو او مراسمو اخلالول .
2. د پوهنتون د لوايحو ، مقرراتو او طرزالعملونو څخه سرغړونه لکه : د امتحاناتو د لايحې خلاف کړنه ، دليلې د مقرراتو خلاف عمل ، د پوهنتون د امکاناتو او وسايلو څخه بې اجازته استفاده او داسې نور .
3. تدريس ، څيړنه ، مديريت او اداري نظم اخلال او گډ وډ کول .
4. په پوهنتون کې نور وگړي تهديدول او په هغوی فشار راوړل او يا هم هغه اعمال تر سره کول ، چې د نورو وگړو فزيکي ، رواني او امنيتي سلامتي د خطر سره مواجه کوي .
5. ژبنيز ، قومي ، او ډلييزه تعصباتو ته لمن وهل .
6. د پوهنتون او ليلې محيط کې د مخدره موادو ، الکولي مشروباتو او نورو نشيي او مضره توکو استفاده ، خرڅلاو او انتقال او همدارنگ د قمار او نورو غير قانوني لوبو تر سره کول .
7. د پوهنتون محيط کې د هر ډول اسليحې ، اور لېرونکو موادو ، انفجاري موادو درلودل ، خرڅلاو ، ليږد او نشرکول ، يا د داسې توکو درلودل چې د اسليحې په حيث کاريدلای شي او يا هم قانونا منع اعلان شوی وي .

8. د دندې جريان کې د پوهنتون د لارښودونو او پالیسیو څخه سرغړونکي او اخلالوونکي اعمال ترسره کول .
9. په چلونه کې بې پروايي ، په ممنوعه ساحه کې د موټر ودرول او د پوهنتون د امنيتي مسؤلينو د آمر څخه قصدا سرغړونه کول .

**څلورمه ماده :**

د دريمې مادې په پورته ذکر شوو مواردو کې نظر د سرغړونې جديت او تکرار ته لاندې تاديبي سزا ګانې کيدلای شي :

توصيه ، اخطار ، د مؤقف تنزيل ( ټيټول ) ، تبديلي ، د تحصيل يا دندې څخه اخراج ، چې په اړوند به يې د مؤسسې علمي شورا پريکړه کوي .

## دریيم فصل

اکادميک سرغړونې ( تخلفات اکادميک )

**پنځمه ماده :**

1. د ليکوالانو د علمي او فکري آثارو څخه سؤ استفاده ، د نور اشخاصو علمي آثارو يوه يا ټوله برخه اخيستل او بيايې په کورنې دندو ، مقالو ، مونوګرافونو ، تيزيسونو ، رسالو ، کتاب ليکلو او نورو درسي موادو په تهيه کولو کې پخپل نامه کول .
2. د نورو اشخاصو له نظرياتو ، مفکورو ، تجاربو څخه په داسې حال کې استفاده کول چې د ليکوال اجازه نوې اخيستل شوې او ياهم اصلي سرچينه او ماخذ نوې ښودل شوی اويا دا چې ددغو نظرياتو ، مفکورو او تجاربو عبارت او جملاتو ته تغير ورکړشوی وي .
3. د ورکړشوې اکادميکه دندې او علمي څيړنو به اړه غير ريښتني او جوړ شوي معلومات او احصاييه وړاندې کول .
4. د امتحان په نتايجو کې هر ډول جوړ جاړی ، تقلب او حق تلفي ، په رسمي اسنادو کې مداخله ، په قصدي ډول د نمراتو تغير ، د تحصيلي مؤسسې د مسؤلينو جعلي امضاکول او داسې نورې کړنې چې د غير قانوني استفادې لپاره پکار وړل کيږي .
5. په اسنادو کې هر ډول تقلب ، جعل او دوکه ، د اجازې پرته د سؤاستفادې په نيت د پوهنتون د وسايلو ، سرچينو او اسنادو څخه استفاده کول .
6. په امتحان کې د نقل هر ډول کړنه او هڅه ، همدارنګ د نقل کولو په منظور هر ډول تخنيکي ، مخابراتي او نشراتي وسايلو څخه استفاده کول .

7. په امتحان کې د بل چا پرځای حاضریدل یا بل چاته اجازه ورکول چې امتحان کې دده پرځای حاضرشی.
8. د کمپیوټر او الکترونیکي وسایلو څخه ددې لپاره غیر قانوني استفاده کول چې هغه معلوماتو ته لاس رسی پیداکړي ، چې د پوهنتون یا کوم خاص شخص پورې اړه ولري .
9. د پوهنتون له تکنالوژیکي وسایلو او امکاناتو څخه ددې لپاره سؤ استفاده کول چې هغه سایټونو ته لاس رسی پیداکړي ، چې د اسلامي او فرهنګي اصولو او دودونو خلاف وي .

**شپږمه ماده :**

د پنځمې مادې ذکر شوو علمي سرغړونو لپاره د پروژې څخه برطرف کول ( سرګیري پروژه ) ، توصیه ، اخطار ، تبدیلي ، تعلیق ( ځنډول ) محرومیت او حتي د اخراج سزا ګانې کیدلای شي .

پورته ذکر شوې سزا ګانې د پوهنځي یا تحصیلي مؤسسې د علمي شورا د تصویب څخه وروسته عملي کیږي .

**اوومه ماده :**

نهایي پریکړه به متهم او متهم علیه دواړو ته رسما رسول کیږي ، د پریکړې د تجدید نظر په اړه عریضه به د پریکړې د صادریدو څخه تر لس ورځو پورې د مؤسسې ریاست دفتر ته ورکول کیږي .

**اتمه ماده :**

هغه تخلفات او سرغړونې او جرمونه چې په دې لایحه کې ندي ذکر شوي د لوړو زده کړو وزارت رهبر او عالي شورا یې په اړوند پریکړه کولای شي .

**نهمه ماده :**

ددې لایحې د دوهمې ، څلورمې ، شپږمې او اتمې مادو مندرجاتو تصاویب د لوړو زده کړو وزیر صاحب له منظورۍ وروسته د عملي کیږي .

**لسمه ماده :**

دغه لایحه په درې فصلونو او لس مادو کې د لوړو زده کړو وزیرصاحب له منظورۍ وروسته نافذکیږي .

دا لایحه د لوړو زده کړو وزیر د ( ۴۵۵۹ ګڼه - ۱۲/۱۷/ ۱۳۸۷ نیټې ) حکم په اساس نافذ شو .